مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمد انور آخړ ۲۰۲۱/۰۹/۱۶

# په ویتنام او افغانستان کې د امریکایانو جګړې

## (پرتلنه)

دوه یمه برخه

**ویتنام:**

**په ویتنام د امریکایانو مخامخ تېری، د نګودین دیم وژل**

دا مهال د بهرنیو یرغلګرو پر وړاندې د ویتنام ټول هغه چیریکي ځواکونه چې د امریکایي او نګودین دیم ځواکونو پر وړاندې جګړېدل، په هغو کې کمونستان او نور چریکي ځواکونه راټول شوي وو نو د (ویتنام ملي آزادي غوښتونکي جبهه) ونومول شول چې په ۱۹۶۰ز، کال د دسامبر په ۲۰ رامنځ ته شوه. (برتراند راسل: جنایات جنګ در ویتنام، فارسي ژباړه د ایرج مهدویان، ۵۴مخ)

له جنوبي ویتنام څخه د فرانسویانو له وتلو وروسته، امریکایانو مخامخ په ویتنام کې پوځي مداخله وکړه، د ۱۹۶۱ز، کال په وروستیو کې د امریکایي پوځیانو شمېره په سایګون کې (۱۵۰۰۰) ته لوړه شوه او د (B -52) الوتکو لومړنی جوپه د (بین هوا) په هوایي ډګر کې ځای پر ځای شوه.

وریسي یوه ډله چورلکې سایګون ته واستول شوې او د امریکا بېړی اته ورځې د جنوبي ویتنام په سمندر غاړو کې مانورونه کول. (۱۲ دسامبر ۱۹۶۱ز) (غلام رضا نجاتي: شکست امریکا، ویتنام از دین بین فو، تا سایګون، ۱۱۹مخ)



(د جنوبي ویتنام واکمن نګودین دیم)

له بل پلو په جنوبي ویتنام کې د نګودین دیم رژیم ورځ تربلې د خلکو کرکه راپاروله ځکه چې دیم، کاتولیک عیسوی ؤ او ډېری ویتنامیان بودایان وو، دیم له ځمکوالو سره ټینګې اړیکې درلودلې خو هیواد له کوچنیو بزګرانو تشکیل شوی ؤ... دیم خپل کسان د ځایي منتخبو چاروواکو پر ځای ټاکلي وو، په ۱۹۶۲ز، کال کې په سلو کې (۸۸) چارواکي د دیم د پوځ قوماندانان وو، دیم هغه ښاریان چې د فساد او هغو ناکافي رفرمونو له کبله چې پر رژیم یې نیوکې کولې زندانونو ته واچول. (پروفیسور هواډ زین: داستان امریکا، ۲ ټوک، فارسي ژباړه خ. طهوري؛ م. هادي،۲۸۳مخ)

د بودایانو راهبان د دیم د رژیم د زورونو او ناوړه کړنو په اعتراض کې خپلو ځانونو ته اور واچولو او نړیوالو ته د دوی د سوزولو فلمونه لیدل، په امریکایانو او د دیم پر رژیم به یې نیوکې کولې، په جنوبي ویتنام کې ناآرامی مخ په زیاتیدو وې، دا او نور عوامل وو چې د جنوبي ویتنام رژیم په خلکو کې باور او محبوبیت له لاسه ورکړ، برعکس شمالي ویتنام د وړ او پوهو مشرانو له خوا اداره کیده سره له دې چې تل د هوایي بمبارۍ لاندې ؤ او خپلې جګړې یې په بریې سره پر مخ بیولې. (غلام رضا نجاتي: شکست امریکا، ویتنام از دین بین فو، تا سایګون، ۱۱۹- ۱۳۲مخ)

دغه مهال د (سي، ای، اي) سازمان د ویتنام له هغو جنرالانو سره چې په سر کې یې جنرال دونګ وان مینه ؤ لاس یو کړ چې د نګودین دیم د پرځولو په لټه کې وو، د امریکایانو مرستې د دیم له حکومت سره ودریدې ... او د اکتوبر په ۱۹۶۳/۱۹ز، کې د جنوبي ویتنام ځواکونو په یوه جګړه کې د شمالي ویتنام ځواکونو څخه سخته ماتې وخوړه ... دا ډول ټولې ناکامۍ او ناآرامۍ د دیم رژیم د ضعف او ناأهلۍ له امله رامنځ ته شوې. (هماغه کتاب، ۱۲۹مخ)



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پاڼوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

نګودین دیم چي د امریکا د سي، ای، اي له خوا د جنوبي ویتنام واکمن ټاکل شوی و، په لومړیو کي ولسمشر کینډي د هغه په ستاېلو نه مړیده خو وروسته چي د جنوبي ویتنام د بزګرانو له خوا له ناکامی سره مخ شو، نوموړی یې د شرم وړ او د جنوبي ویتنام د جګړو پرورانډي د کنټرولو خنډ ؤ او د همامغه سي، ای، اي، له خوا (د کینډي په خوښه) د جنوبي ویتنام د جنرلانو له خوا د یوي کودتا په ترڅ کي له واکه وپرځول شو. (پروفیسور هواډ زین: داستان امریکا، ۲ ټوک، فارسي ژباړه خ. طهوري؛ م. هادي،۲۸۴-۲۸۵مخونه)

نګودین دیم او د هغه ورور (نهو) د ولسمشری مانۍ څخه وتښتېدل او د شولون په یوه کلیسا کي یې پنا واخیسته خو هغوی یې وپیژندل او ووژل شو. (غلام رضا نجاتي: شکست امریکا، ویتنام از دین بین فو، تا سایګون، ۱۵۵مخ


د نګودین دیم مړی

امریکایانو خپل پخوانی ګوډاګی نګودین دیم د خپلو نورو ګوډاګیانو په لاس له منځ یوړ. د جنوبي ویتنام رژیم بدلون کومه ګټه ونه کړه او د پخواني رژیم څخه یې لا هم فاسد او ناوړه رژیم رامنځ ته شو، امریکایانو ته یې هم ښه ونه رسیدل، د ولسمشر کینډي په حکومت کي لندون جانسون د ولسمشر مرستیال، د بهرینو چارو وزیر دیرراسک او د دفاع وزیر مک نامارا په ویتنام کي د واشینګټن د سیاست اصلي چلوونکي وو، دوی د جنوبي ویتنام په اړه په کال ۱۹۶۳ز، کي د دیم او د هغه د ورونو لیري کول اړین وبلل خو د دوی دغه عمل نه یوازي دا چي ښه پایله یې ورنه کړه بلکي امریکا یې له نورو مشکلاتو سره مخ کړه، دفاع وزیر مک نامارا د ۱۹۷۱ز، کال په اوړي کي د ۱۹۶۳ز، کودتا د ناوړه پایلي په هکله وویل:«دغي کودتا زموږ مسوولیتونه لا پسي زیات کړل او د جنوبي ویتنام پر وړاندي یې د متحده ایالاتو ژمني څو ځله زیاتي کړي. (هماغه، ۱۳۰مخ)

**افغانستان:**
**د شوروي اتحاد پاشل او د ډاکټر نجیب الله وژل**


ډاکټر نجیب الله، ګورباچف او نور...

ګورباچف او ډاکټر نجیب الله کله چي د شوروي اتحاد دکمونست ګوند واکمني د ګورباچف په زیار وپاشل شوه او شوروي اتحاد له منځه ولاړ، د روسیي فدراتیف جمهوریت مشري او واکمني بوریس یلتسن په لاس کي واخیسته، دغه مهال روسانو له ډاکټر نجیب الله وغوښتل داسي سند لاس لیک کړي.
چي افغانستان به په راتلونکي کي له روسانو څخه د جګړي هیڅ ډول تاوان (غرامت) نه غواړي خو ډاکټر نجیب الله نوموړی سند لاس لیک نه کړ...[1] هغه وو چي روسانو د ډاکټر نجیب الله پر حکومت مرستي ودرولي، ډاکټر نجیب الله روسان خائینان وبلل او روسانو ببرک کارمل چي په روسیه کي اوسیده له هغه ځایه یې د ډاکټر نجیب الله د پرځولو په موخه افغانستان ته ولیږه.
کارمل چي د پرچمیانو د ډلي مشر ؤ او د نوموړي ډلي دوېم شمېر غړي غیر پښتانه وو، د افغانستان په شمال کي د ازبکو مشر جنرال عبدالرشید دوستم، په کابل لوی شمېر پرچمي جنرالان او په پنجشیر کي د جمعیت ګوند قوماندان احمد شاه مسعود او نوري ډلي ټپلي د ډاکټر نجیب الله پر وړاندي سره متحدي کړي او پر ډاکټر نجیب الله یې کودتا وکړه او د ملګرو ملتونو د سولي پلان یې شنډ کړ.

---

[1] -محمد اسحاق توخی: بهرنی لاسوهني او د افغانستان جمهوري دولت د رنګیدو ناورین، ژباړن: مومند آخر، ۱۳۷۱.ل، ۱۷۷-۱۷۸مخونه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ډاکټر نجيب الله اړ شو چي د ملګرو ملتونو په دفتر کي پنا واخلي، د هيواد واک په نامنظم ډول په پاکستان او ايران کي جوړو شويو جهادي تنظيمونو ته په لاس ورغی او د کابل ښلا ښلي سيمي د جهادي تنظيمونو له خوا ونيول شوي او په خپلو منځو کي سره ونښتل، کابل يي وران او نږدي (۷۰،۰۰۰) کابل ښاريان يي ووژل چي په پای کي طالبانو د افغانستان ډېري برخي بي له جګړي خپلي کړي او په (۲۶ سپتامبر ۱۹۹۶ز = ۶ ميزان ۱۳۷۶ل. ل) کي هغه مهال چي طالبانو د برهان الدين رباني پلويان له کابله پسي واخيستل او کابل يي لاندي کړ نو د طالبانو يوې ډلګی، په کابل کي د ملګرو ملتونو دفتر ته وردننه شول،




ډاکټر نجيب الله يي لومړی ارګ ته يوړ، هلته يي شکنجه کړ او بيا يي وواژه، بيا يي د هغه ورور وواژه او د هغوی مړي يي تحقير او توهين کړل. په دي اړه د بي. بي. سي. راديو نړيوال خبريال، ډيوډ لاين ليکي:«د جمهوري رياست د ودانی په منځ کي مو يوه کوټه وليده چي ټوله په وينو لړلي وه، دا هغه کوټه وه چي ډاکټر نجيب او د هغه ورور په کي وهل شوي، شکنجه شوي او ربړول شوي وو. هغوی د ملګرو ملتونو له دفتره ويستل شوي او دغي کوټي ته راوستل شوي وو، په وينو لړلي دغه کوټه داسي ښکاريده لکه د يوه وحشتناک فلم صحنه چي وي، په کوټه کي د وينو کچي ته په کتو داسي ښکاريدل چي نجيب او ورور يي همدلته وژل شوي او بيا په ښار کي د ترافيکو پر يوې ستن ځړول شوي دي، د هغوی بدونه يي خراب کړي او په ګوتو کي يي پيسي او سګرت ورکړي وو ... د نجيب او د هغه ورور مړي د څو ورځو لپاره هماغسي ځوړند وو. (دوه پيړی په افغانستان کي، د محمد جعفر هاند پښتو ژباړه، ۲۶۰مخ)

## ويتنام:

### د امريکايانو دروغ، پر ويتنام د بريد پلمه

د ديم له وژلو دري هفتي وروسته کندي هم په يو ترهګر بريد کي ووژل شو او ليندن جانسون چي د ده مرستيال ؤ، د امريکا ولسمشر شو، په ۱۹۶۴ز، کال کي جانسون ځيني مشکوکي کړني د ويتنام د ناڼکين په خليج کي پلمه کړي تر څو وکولی شي پر شمالي ويتنام بريدونه پيل کړي، جانسون او د هغه د بهرنيو چارو وزير روبرټ مک نامارا د امريکا خلکو ته وويل:«په بين لمللي اوبو کي د امريکايانو په برغليزې (مادوکس) نومي بېړی باندي ويتناميانو، بې له کوم دليله بريد کړی دی.» وروسته ښکاره شوه چي د ناڼکين خليج پېښه داسي دروغ وو چي د امريکا تر ټولو لوړ پوړو چارواکو له خوا ويل شوي وو. (پروفيسور هوارډ زين: داستان امريکا، ۲ ټوک، فارسي ژباړه خ. طهوري؛ م. هادي،۲۸۸مخ)



ليندون جانسون د امريکا پخوانی ولسمشر

له دي وړاندي د امريکا د دفاع وزير مرستيال (ارتور سيلوسټر) د ۱۹۶۲ز، په دسامبر کي په يوه لويه غونډه کي د دروغ ويلو په اړه داسي ويلي وو:«دروغ ويل د دولتونو په لاس کي ډېره ښه وسله ده.» جنګ ويتنام ۷۷مخ

څه موده وروسته د دغو لويو تباه کوونکو دروغو په تړاو په د امريکا متحده ايالاتو کانګرس ته له پينټاګون (د دفاع وزارت) او سي، ای، اي، څخه د ويتنام د جګړي په اړه پټ اسناد په لاس ورغلل چي د ولسمشر ليندون جانسون دولت، د امريکا متحده آيالات څه ډول په لويه کچه د ويتنام په جګړه کي ښکيل کړ او د ۱۹۶۲ز، کال په اګست کي د ناڼکن په خليج کي د دروغو پيښي په جوړولو يي له کانګرس څخه په لويه کچه واکونه ترلاسه کړل ... کانګرس په دي پوه شو چي د امريکا دولت په تېرو لسو کالو کي د ويتنام د جګړي په اړه د امريکا مقننه ځواک ته د دروغو راپورونه ورکړي دي، کانګرس د تېرو لسو کلونو په دروغو او غولونو باندي د بطلان کرښه تېره کړه او له






افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولئ

ولسمشر څخه یې نظامي واکونه واخیستل. (غلام رضا نجاتي: شکست امریکا، ویتنام از دین بین فو، تا سایګون، ۱۵۴مخ)

هغه وو چې وروسته د نانکین خلیج له دسیسې څخه د امریکا جګړه ییزو الوتکو په شمالي ویتنام بمباری پیل کړې. په شمالي ویتنام باندې د امریکا ولسمشر جانسون، هوایي عملیاتو بنه پایله نه درلوده نو د ۱۹۶۴ز، په مني کې یې تصمیم ونیو چې ویتنام ته پلې ځواکونه ولیږي ... او د مارچ په اتمه نېټه د امریکایانو لومړنی ډله عسکر چې شمېر یې (۴۰۰۰) تنه ؤ د نانګ په بندر کې ښکته شول. (هماغه، ۱۳۲مخ)
دغه شان، په کال ۱۹۶۵ز، کې له (۲۰۰،۰۰۰) زیات امریکایي عسکر جنوبي ویتنام ته ولیږل شول چې یو کال وروسته په ۱۹۶۶ز، کې (۲۰۰،۰۰۰) نور عسکر هم ولیږل شول او د ۱۹۶۸ز، کال په لومړیو کې له (۵۰۰،۰۰۰) زیات امریکایي عسکر ځای پرځای شول، د امریکایانو هوایي ځواکونو شمالي ویتنام په داسې بې رحمۍ سره بمبار کړ چې په تاریخ یې سارې نه ؤ. (پروفیسور هوارډ زین: داستان امریکا، ۲ ټوک، فارسي ژباړه خ. طهوري؛ م. هادي،۲۸۹مخ)

**افغانستان:**

**په افغانستان باندې د پاکستان او شمالي ټلوالي په مرسته د امریکا تېرى**

په کال ۲۰۰۱ز، په ۱۱ د سپټامبر، هغه مهال چې د امریکا د نیویارک په دوو لوړپوړیزو تجارتي ودانیو او د امریکا د دفاع وزارت پنټاګون پر ودانۍ باندې د ترانسپورټي الوتکو بریدونه وشول، امریکایانو نوموړي بریدونه د القایدې سازمان کار وباله چې مشر یې (اسامه بن لادن) په افغانستان کې اوسیده، د امریکا ولسمشر جورج بوش چې (کبر او بدماشۍ نښې په کې لیدل کېدې) د نړۍ پر هېوادونو باندې غږ وکړ ویې ویل:«تاسو به یا له موږ سره وئ، یا له ترهګرو سره.» د دې خبرې مانا دا وه:که د امریکا سره ملګرې نه وې، نو د امریکا دښمن یئ.

امریکایانو له طالبانو څخه د القایدې سازمان مشر بن لادن غوښتنه وکړه خو طالبانو پر امریکا باندې د بریدونو اسناد وغوښتل، امریکایانو اسناد وړاندې نه کړل خو جورج بوش له طالبانو پنځه غوښتنې په جدي توګه وکړې:

۱.د القایدې ټول مشران د امریکا متحده ایالاتو ته وسپارئ.
۲.ټول بهرني زندیان چې د طالبانو په زندانونو کې بندیان دي آزاد او امریکا ته یې وسپارئ.
۳.د ترهګرو ټول پنډې غالي وتړئ
۴.ټول ترهګر او ملګري یې معرفي او امریکا ته دې ورکړل شي.
۵.متحده آیالاتو ته دې د ترهګرو د ځتون او نیولو غوښه اجازه ورکړل شي.

جورج بوش وویل:«دوی (طالبان) باید موږ ته ترهګر وسپاري که نه نو د ترهګرو پر برخه لیک به اخته شي.

هغه (۱۹) کسان چې د نیویارک په بریدونو کې یې مخامخ او نامخامخ لاس درلو یو یې هم افغان نه ؤ او نه یې په افغانستان کې کومې زده کړې کړي وې او نه له افغانستان څخه امریکا ته تللي وو.

امریکایانو فکر کړی ؤ چې ملا محمد عمر به د جنرال مشرف په شان په یوه ټیلیفون تسلیم کړي خو ملا محمد عمر تسلیم نه شو او ویې ویل:«امریکایان به خپل کار کوي موږ به خپل کار کوو.» مانا دا چې جګړې ته چمتو دی.
نه یوازې دا چې ملا محمد عمر اسامه امریکایانو ته ورنه کړ، څه موده وړاندې د سعودي عربستان د استخباراتو مشر ته یې هم غوڅ ځواب ورکړی ؤ، هغه مهال چې سعودي عربستان له طالبانو د اسامه بن لادن غوښتنه کوله د خوست د ژوې په سیمه کې امریکایانو په اسامه باندې د کروز توغندیو برید وکړ. شهزاده ترکي د سعودي عربستان د استخباراتو مشر له ملا محمد عمر څخه د اسامه غوښتنه وکړه ، د طالبان مشر د سعودي کورنۍ سپکاوی وکړ او ترکي ته یې وویل:«موږ افغانان به ډېر بې وزله او غریب وو او تاسو ډېر شتمن او ځواکمن یاست خو موږ ستاسو غوندې خلک نه یو، تاسو هېڅ حیثیت او وقار نه لرئ.» شهزاده ترکي په غوسې له افغانستانه ووت او د ملا عمر له لوري جوړې شوې میلمستیا ته یې له تلو ډډه وکړه. په دې کار سره ملا عمر د اسلامي نړۍ په خلکو کې محبوبیت پیدا کړ. (ډیوید لاین: دوه پېړۍ په افغانستان کې د بهرنیانو مداخله، د محمد جعفر هاند ژباړه، ۲۷۷مخ)
هغه وو چې امریکایانو پر افغانستان د پاکستان او شمالي ټلوالي پر ملاتړ بریدونه پیل کړل.
د امریکا د (سي، ای، اي) سازمان جنرال ګیري شرون چې په افغانستان کې د (سي، ای، اي) د لسو ګروپونو څخه د ( ژامي ماتوونکي) ډلي مشر ؤ، په پنجشېر کې ځای پرځای شو او د ۲۰۰۱ز، کال د سپتمبر په شپږمه نېټه، په پنجشېر کې د شمالي ټلوالي له تود او دوستانه هرکلي سره مخامخ شو. (ګیري شرون: سي، آی، اي په پنجشېرکې، ژباړن: لاهو منګل، ۶۹مخ)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ




(کوفر بلاک) چي په (سي، آي، ای) سازمان کي د ترهګرۍ ضد مشر ؤ [په حقيقت کي دی په خپله د دولتي تروروستانو مشر ؤ] ګيری شرون ته دنده ورسپارلي وه چي لومړی د پنجشير دره د امريکايي نظامي عملياتو لپاره وکاروي او ورسره د بن لادن لوړپوړي چارواکي وموومي او ويي وژني، کوفر بلاک ګيري شرون ته داسي دنده ورکوي وايي:«... له هغي نه پرته ستا دنده دا ده چي، اسامه بن لادن او د هغه لوړپوړي چارواکي پيدا او ويي وژني.» کوفر زياته کړه: «زه نه غواړم چي د اسامه بن لادن او د هغه جنايتکاره ډله ژوندۍ ونيول شي، زه غواړم چي هغه مړ ووينم او نه غواړم چي ژوندۍ يي وساتم ... زه غواړم چي د دوی د سرونو انځورونه د نيزو پر سر ووينم(!) زه غواړم چي د اسامه سر ما ته په يو بکس کي، چي د وچ يخ څخه ډک وي، راوليږل شي.» (هماغه، ۴۴مخ)

د سپتامبر د ۱۱ پيښي يوه ورځ وروسته په د سپتامبر په ۱۲ سهار د پاکستان واکمن جنرال پرويز مشرف ته د امريکا د بهرنيو چارو وزير کولن پاول ټيليفون وکړ په غوڅ ډول يي ورته وويل:«له موږ سره ياست که زموږ پر وړاندي ياست؟» جنرال مشرف د پاول په يوه ټيليفون امريکا ته سلامي شو، څه چي امريکايانو غوښتل هغه يي ومنل، مشرف امريکايي ځواکونو ته د بلوچستان شمسي او جيکب آباد هوايي ډګرونه، په سېند کي د يعقوب آباد هوايي ډګر، د کراچي بندر او له کراچي تر تورخم او سپين بولدک پوري لويي لاري په واک کي ورکړې له دې وروسته پاکستان د امريکا ستراتيژيک متحد شو او لس ميلياره ډالر يي پاکستان ته د ترهګرۍ د خپلو په نوم ورکړل.
د طالبانو واکمني پای ته ورسيده، شمالي ټلوالي کابل ونيو،(۱۳ نوامبر ۲۰۰۱ز) او د جرمني په بُن کي د امريکايانو او غربيانو له خوا د حامد کرزي په مشري لکه د جنوبي ويتنام د نيګودين ديم په څېر يو فاسد موقت حکومت، د دوو کالو لپاره جوړ شو. (۵ دسمبر ۲۰۰۱ز) امريکايي غربي پوځيان چي ټول شمېر يي تر کال ۲۰۱۱ز، پوري (۱۴۰،۰۰۰) تنو ته ورسيد، په افغانستان کي وځګرېدل.
نور بيا...


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ